# عقلمند مُبَلِّغ

02-September-2021

هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے
د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ؕ

# عقلمند مُبلِّغ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا رَسُوۡلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا حَبِيۡبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا نُوۡرَ الله

نَوَيۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِكَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې كله جُمات ته داخل شئ، نو په ياد سره د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چې په جُمات كښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي. ياد ساتئ! جُمات كښې د خوراك څښاك، اُوده كيدلو يا پيشمني او روژه ماتي كولو، تردې چې د آبِ زَم زَم يا دَم كړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته كه د څكښې نه مو د اعتكاف نِيَّت كړے وي نو دا ټول كارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

د نبـئ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان عاليشان دے: چا چې په ما سحر او ماښام لس لس ځله دُرُود شريف اولوستل، هغه ته به په ورځ د قيامت زما شفاعت نصيب كيږي. (1)

شافعِ روزِ جزا تم په كروڑوں دُرُود دافعِ جُملہ بَلا تم په كروڑوں دُرُود (1)

[1]...مجمع الزوائد، جلد: 10، صفحه: 163، حديث: 17022۔

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** نن **يومِ دعوتِ اسلامي** ده. **اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** په ستمبر 1981ء د عاشقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي شروع شوے وو او د 40 کالو په لړه موده کښې دې عظيمُ الشَّان ديني تحريك په ټوله دُنيا کښې د نيکئ دعوت خور کړو.

| | |
|---|---|
| اللّٰہ کی نعمت ہے یہ دعوتِ اسلامی | آقا کی عنایت ہے، یہ دعوتِ اسلامی |
| فیضانِ رضا ہے اور یہ غوث کا فیضاں ہے | خواجہ کی حمایت ہے، یہ دعوتِ اسلامی |
| عُشَّاقِ محمد کی ٹھنڈک ہے یہ آنکھوں کی | ہر دِل میں سرَایَت ہے، یہ دعوتِ اسلامی[1] |

| | |
|---|---|
| د اللّٰه نِعمَت دے دا دعوتِ اسلامي | د آقا عنايت دے دا دعوتِ اسلامي |
| فيضان د رضا او فيضان د غوثِ پاك دے | د خواجه حمايت دے دا دعوتِ اسلامي |
| د عاشقانِ رسول د سترګو دے يخ والے | د هر زړه راحت دے دا دعوتِ اسلامي |

**اے عاشِقانِ رسول!** د نيکئ دعوت د دِين اَهَمَّه فريضه ده، مونږ به د نيکئ دعوت څنګه ورکوو؟ د قرآنِ کريم د دې په باره کښې تعليمات څه دي؟ او بانئ دعوتِ اسلامي، شيخِ طريقَت، اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِرى، رضوي، ضيائي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د دعوتِ اسلامي جوړلو، چلولو او په ټوله دُنيا کښې د نيکئ دعوت عام کولو څه انداز دے، د دې په باره کښې به نن د يو څو مدني ګلونو اوريدلو سعادت حاصلوو. اللّٰه پاك دِ مونږ ته د قرآن و حديث لوستلو، په دې د ځان پوهه کولو او د دې مطابق د عمل کولو توفيق را عطا کړي. او اللّٰه پاك دِ په شيخِ طريقَت، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه باندې ډير ډير رحمتونه نازل کړي، هغوئي ته

[1] ...حدائقِ بخشش، صفحه:264۔

او د هغوئي ټول اولاد ته دِ د عافيت اوګړد ژوند عطا کړې چې هغوئي د دې فتنو نه ډك دور کښې د نيکئ دعوت ډير عام کړو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## چې کله ورته د فلم کتلو دعوت ورکړے شو......

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** د عاشقانِ رسول د ديني تحريك دعوتِ اسلامي د شروع شروع دَور خبره ده چې په هغه ورځو کښې به د دعوتِ اسلامي هفته واره اجتماع د دعوتِ اسلامي په وړومبي مرکز " ګلزارِ حبيب مسجد (سولجر بازار، کراچئ)" کښې کيدله، يوه ورځ **بانئ دعوتِ اسلامي، شيخِ طريقَت، اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِری، رضوي، ضيائي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د اسلامي وروڼړو سره هفته وارې اجتماع له روان وو، په لاره کښې يو ځائے د سنيما په خوا تيريدلو، هلته يو ځلمے د ټکټ اخستلو د پاره په قطار کښې ولاړ وو، هغه چې کله اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ اوليدلو نو مَعَاذَ اللّٰه! په اوچت آواز ئې ورته غږ ورکړو: مولانا صاحبه! ډير ښه فلم لګيدلے دے، راشه او ئې ګوره ...!

د هغه ځلمي په داسې ناخوښه حرکت باندې شيخِ طريقت، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ غُصَّه نه شو بلکه ډير د حکمت، صبر او برداشت نه ئې کار واخستلو، اوَّل ئې په اوچت آواز هغه ځلمي ته سلام اوکړو، بيا ورنِزدې شو او په ډيره نرمئ سره ئې ورته اوفرمائيل: بچيه! زه فلمونه نه ګورم، البته تاسو ما ته دعوت راکړو نو ما سوچ اوکړو چې تاسو ته هم زه دعوت درکړم، اوس به اِنْ شَآءَ اللّٰه! په ګلزارِ حبيب مسجد کښې د سنتو ډکه اجتماع کيږي، تاسو پکښې هم شريك شئ، که اوس نه شئ راتلے

نو بيا کله ضرور راشئ. د دې سره سره اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ يوه د عطر شيشه هغه ته په تحفه کښې ورکړه او اجتماع له روان شو.

يو څو کاله پس د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ په خدمت کښې يو اسلامي ورور حاضر شو، ظاهري حُليه ئې د سُنتونو مطابق وه، د عمامے شريفې تاج ئې په سر وو، هغوئې د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ په خدمت کښې حاضر شو، عرض ئې اوکړو: جناب! يو څو کاله مخکښې يو ځلې تاسو ته د فلم کتلو دعوت درکړے وو او تاسو د ډير صبر و تحمُّل نه کار اخستے وو، د خفه کيدلو په ځائے تاسو هغه ته په اجتماع کښې د شريك کيدلو دعوت ورکړے وو، هغه ځلمے زه ووم. زه ستاسو د عَظِيمُ الشَّانه اخلاقو نه ډير زيات مُتَاَثِّره شوم او يوه ورځ اجتماع ته راغلم ، اللّٰه پاك په ما رحم اوکړو او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ما د ګناهونو نه توبه ويستله او د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره وابسته شوم.[1]

امیر اہلسنت آپ کی ہمت کا کیا کہنا
جو صحبت میں تری آئے وہ عشقِ مصطفےٰ پائے
جسے تم پیار سے دیکھو، تمہارا دِل سے شیدا ہو

جو بد کو نیک کر دیتی ہے اس دعوت کا کیا کہنا
میرے محسن تری مجلس، تری صحبت کا کیا کہنا
محبت بانٹنے والی تری فطرت کا کیا کہنا

## د اُمَّت بهترين انسان څوك دے...؟

اے **عاشِقانِ رسول!** په نرمئ، مينه، حکمتِ عملئ او د موقعے په مُناسَبَت سره د نيکئ دعوت ورکول، خلق دين طرف ته رابلل ډير لوئے سعات دے. د حضرت ابوهُرَيره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې د اللّٰه پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ

1 ...تعارُفِ امیر اہلسنت، صفحہ:40۔

وَسَلَّم فرمائيلي دي: **خِيَارُ اُمَّتِيْ مَنْ دَعَا اِلَى اللهِ تَعَالٰى وَحَبَّبَ عِبَادَهٗ اِلَيْهِ** زما د اُمَّت بهترين كس هغه دے كوم چې دالله پاك طرف ته خلق را اوبلي، او د الله پاك د بندګانو په زړونو كښې د الله پاك محبت پيدا كړي.[1]

په دې حديثِ پاك كښې زمونږ خوږ آقا، **خَاتَمُ النَّبِيِّيْن** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمَّت د بهترين كس نښه بيان كړې ده. چنانچه زمونږ د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نظر كښې د اُمَّت بهترين كس هغه دے په چا كښې چې دوه صِفَات وي: (1) هغه خلق الله پاك طرف ته رابلي يعنې هغه بنده خلق د الله پاك دِين طرف ته رابلي، دُرُست اسلامي عقائدو طرف ته ئې رابلي، د لمَانځه دعوت وركوي، د روژو دعوت وركوي، د قرآنِ كريم د تلاوت دعوت وركوي، د حُسنِ اخلاق دعوت وركوي، د بندګانو د حقونو ادا كولو دعوت وركوي، غرض: څومره د نيكئ كارونه چې دي، هغې طرف ته رابلل كوي ځكه چې هره نيكي د الله پاك د قُرب ذريعه ده. (2) بيا د دې سره سره په هغه بنده كښې دويم صِفَت دا وي چې د الله پاك د بندګانو په زړونو كښې د الله پاك محبت پيدا كړي. مثَلاً په حكمتِ عملئ سره، د خپل ښكلي كردار او د خپلې تاثير لرونكې ژبې په ذريعه خلق زُهد و تقوىٰ طرف ته راغب كړي. د خلقو د زړونو نه د دُنيا محبت اوباسي، په زړونو كښې فِكرِ آخرت پيدا كړي، د خوفِ خدا په ذريعه د نَفسِ اَمَّاره كوم چې انسان ګناهونو ته راپاروي د هغه [نَفسِ اَمَّاره] زور مات كړي، بيا ورته د رحمتِ اِلٰهي اُمِّيد وركړي او د الله پاك په دربار كښې ئې حاضر كړي.

د عَلَّامَه مناوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د فرمان مضمون دے: دا دوه خبرې يعنې د نيكئ دعوت وركول او د بندګانو په زړونو كښې د الله پاك محبت پيدا كول، د دې نه علاوه د دې

---

[1] ...جامِع صغير، صفحه:378، حديث:3979۔

كس د بهترين كيدلو د پاره دا هم شرط دے چې د هغه دا كار د شُهرت او دُنياوي لالچ د پاره نه وي بلكه د هغه دا ټول كوششونه صرف او صرف د الله پاك د رضا د پاره وي. كه داسې اوشي نو هغه كس د اُمَّت بهترين كس دے.[1]

## څه خلق د نيكئ كُنجيانې وي

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** راځئ چې د يو بل حديثِ پاك اوريدلو سعادت حاصل كړو. د خادِمِ مصطفٰى، صحابئ رسول، حضرت اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللہ عَنْہُ نه روايت دے چې د الله پاك آخري نبـي، مُحَمَّدِ عَرَبِي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: بيشكه په خلقو كښې ځه هغه دي كوم چې د نيكئ كنجيانې دي او د بدئ تالے دي او ځه خلق هغه دي كوم چې د بدئ كنجيانې او د نيكئ تالے دي، پس زيرے دے د هغه كس د پاره د چا په لاس كښې چې الله پاك د خير كنجيانې ايښودي دي او بربادي ده د هغه كس د پاره د چا په لاس كښې چې الله پاك د بدئ كنجيانې ايښودي دي.[2]

په دې حديثِ پاك كښې د دوه قِسمه خلقو ذِكر دے: (1) هغه كس كوم چې د خير كنجي او د بدئ جندره [يعني تاله] ده نو دا داسې كس دے چې د ده په لاس نيكي او خير جاري كړے شوے دے، دا په خلقو صدقه و خيرات كوي، د درد مندو حاجت پورهپوره كوي، جاهلانو ته علم زده كوي، ګمراهانو ته نيغه لاره ښائي، بيلمَانځه لمُونځ ګزاره جوړوي، فيشنونو والا د سُنتو نمونه جوړوي، كوم چې د دِين نه لرې وي، د هغوئي په زړه كښې د دِين محبت پيدا كوي.[3] او عَلَّامه مناوِي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: د دې

---

[1] …فيض القدير، جلد:3، صفحه:463، زيرِ حديث:3979۔

[2] …جامِع صغير، صفحه:210، حديث:2465۔

[3] …تَنْوِير شرح جامِع صغير، جلد:4، صفحه:113۔

کس شان دا دے چې د ده په ليدلو خلقو ته نيکي ياديږي، دا چې چرته ځي نيکۍ عام کوي، چې وينا کوي نو د خُلې نه ئې د نيکۍ خبرې اوځي،چې سوچ کوي نو د نيکۍ خبرې سوچ کوي، د هغه باطن هم په نيکۍ وي تر دې پورې چې کوم بنده د هغه په صحبت کښې کښيني، هغه هم نيك جوړيږي. [1] (2) او **دويم هغه کس** دے کوم چې د بدۍ کنجي او د نيکۍ جندره ده يعني دا د وړومبي کس ضِد دے، دا چې چرته ځي، بدي خوروي، د ده د ژبې نه بدي اوځي، د ده په لاس بدي ظاهريږي، د ده سوچ د بدۍ سوچ وي، غرض دا چې دا پخپله هم بد او نورو ته هم بدي رسوي.

په دې دواړو کسانو کښې چې کوم وړومبے دے. کوم چې نيکۍ خوروي، د ده په باره کښې په حديثِ پاك کښې دي: د ده د پاره زيرے دے او دويم کس کوم چې بدۍ خوروي، د ده مُتَعَلِّق ارشاد دے: د ده د پاره هلاکت دے.

دلته عَلَّامه مَناوِي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه يو ايمان افروز مدني ګل بيان کړے دے، فرمائي: چې کله الله پاك د بنده نه راضي شي نو د هغه د رضا نښه دا ده چې الله پاك هغه بنده د نيکۍ کنجي (يعني نيکۍ خورولو والا) جوړوي. [2]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږه دا دواړه احاديث د مختصرې شرحې سره د اوريدلو سعادت حاصل کړو، په دې دواړو احاديثو کښې بنيادي طور د نيکۍ د دعوت د عام کولو د فضيلت بيان دے. الله پاك دِ مونږ ټولو ته په دې احاديثو کښې بيان شوي صِفات را عطا کړي. **اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ہو اخلاق اچھا، ہو کردار ستھرا | مجھے متقی تو بنا یا الٰہی

---

1 …فيض القدير ، جلد:2، صفحه:528، زيرِ حديث:2465۔
2 …فيض القدير ، جلد:2، صفحه:528، زيرِ حديث:2465۔

نہ نیکی کی دعوت میں سستی ہو مجھ سے
سَعَادت ملے درسِ فیضانِ سُنَّت

بنا شائق قافلہ یاالٰہی
کی روزانہ دو مرتبہ یاالٰہی

# د نيكۍ دعوت عام كولو صحيح طريقۀ كار

په سيپارۀ14، سورۀ نحل، آيت: 125 كښې ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| اُدۡعُ اِلٰى سَبِيۡلِ رَبِّكَ بِالۡحِكۡمَةِ وَ الۡمَوۡعِظَةِ الۡحَسَنَةِ (پارہ14،سورۂ نحل:125) | مفہوم ترجمہ کنزُالعِرفان: د خپل ربّ لاري طرف ته په حكمت او ښه نصيحت سره را اوبله. |

دا آيتِ كريمه ګويا "د نيكۍ د دعوت" د ديني كار مكمل نصاب دے. اوّل مو د نيكۍ د دعوت وركوونكي د عظمت و شان بيان واوريدلو، اوس راځۍ چې د دې آيتِ كريمه په رڼړا كښې د نيكۍ د دعوت وركولو صحيح انداز او طريقه زده كړو. اللّٰه پاك فرمائي: اُدۡعُ (را اوبله). په ذِهن كښې سُوال پيدا كيږي چې: څوك را اوبلو؟ مُفَسِّرينِ كرام فرمائي: د ټولې دُنيا انسانان [را اوبلۍ] (1)

امام غزالي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: مُحۡتَسَبۡ (يعني چا ته چې د نيكۍ دعوت وركول دي) د هغه صرف يو شرط دے چې هغه انسان وي. څوك چې انسان دے، هغه چې هر څنګه دے، هغه ته دِ د نيكۍ دعوت وركړے شي، كه كافِر وي نو هغه ته دِ د اِيمان دعوت وركړے شي، كه ګنهګار وي نو هغه ته دِ د نيكو كارونو دعوت وركړے شي، څوک چې رياكار دے، هغه ته دِ د اِخلاص دعوت وركړے شي، څوک چې حسد

---

[1]...تفسير بيضاوی، پارہ:14، سورۂ نحل، زيرِ آيت:125، جلد:3، صفحہ:245۔

كوي، هغه ته دِ د شُكر ادا كولو دعوت وركړے شي، دروغ ويونكي ته دِ د رښتيا وئيلو دعوت وركړے شي. خيانت كوونكي ته دِ د امانت دارئ دعوت وركړے شي، غرض څوك چې هم انسان دے، هغه ته دِ د هغه د حال مطابق د نيكئ دعوت وركړے شي.

الله پاك اوفرمائيل: اُدْعُ (را اوبله). بيا په ذِهن كښې سُوال پيدا كيږي چې: د چا طرف ته ئې را اوبلو؟ د دې جواب الله پاك ارشاد اوفرمائيلو: اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ (د خپل ربّ لارې ته). د ربّ لاره څه ده؟ اِيمان د ربّ لاره ده، رښتيني عقائد د ربّ لاره ده، قرآن د ربّ لاره ده، عِلمِ دين، لمُونځ، روژه، زكوٰة، حج د ربّ لاره ده، د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنتونه د ربّ لاره ده، ښه اخلاق د ربّ لاره ده، غرض: ټولې نيكئ، مكمل دِين، دا ټول هر څه د ربّ لاره ده. لِهٰذا د ټولې دُنيا انسانان رابلل دي، د چا طرف ته؟ د الله پاك د دِين طرف ته.

بيا په ذِهن كښې دريم سُوال پيدا كيږي چې: څنګه رابلل دي؟ د رابللو هم ډيرې طريقے دي: كله په كارډ ليږلو رابلل كيږي، كله په مينه سره رابلل كيږي، كله په غُصَّه رابلل كيږي، د ټولې دُنيا خلق د الله پاك دِين طرف ته رابلل دي، څنګه رابلل دي؟ د دې الله پاك دوه طريقے ارشاد فرمائيلي دي:

(1) بِالْحِكْمَةِ (په حكمت سره) (2)وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ (په ښه نصيحت سره)

اِمام رازي، عَلَّامه بيضاوي او نورو مُفَسِّرِينِ كرامو فرمائيلي دي: په دې آيت كښې د نيكئ د دعوت وركولو انداز تقسيم شوے دے، دا تقسيم د خلقو د ذِهني صلاحيت په اعتبار سره دے، يعنې د مُعاشرے هغه خلق كومو ته چې مونږه تعليم يافته خلق وايو، مثلاً ډاكټر، انجينئر، وكيل، دا ټول خلق د اعلٰى ذِهني صلاحيتونو مالكان دي، دوئي

ته به د نيکۍ د دعوت انداز بدل وي، او د معاشرے هغه خلق کومو چې تعليم نه دے حاصل کړے يعنې بے تعليمه دي يا کم ليك لوستونکي دي، هغوئي ته به د نيکۍ د دعوت انداز بدل وي. لِهٰذا څوك چې د نيکۍ دعوت ورکولو والا دے، هغه له پکار دي چې چا ته د نيکۍ دعوت ورکوي، د هغه د ذِهني صلاحيتونو لحاظ دِ ساتي او د هر يو سره دِ د هغه د عقل مطابق خبرې کوي. خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: ما ته حکم راکړے شوے دے چې د خلقو سره د هغوئي د عقلونو مطابق خطاب اوکړم. (1)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په دې آيتِ کريمه کښې دوه الفاظ بيان شوي دي: (1) حکمت (2) **مَوۡعِظَۃِحَسَنَه**. حکمت څه ته وائي؟ او **مَوۡعِظَۃِحَسَنَه** څه ته وائي؟ په دې باره کښې مُفَسِّرينو ډير وضاحت بيان کړے دے:

## د حکمت وضاحت

❀ اِمام جَلالُ الدِّين سُيُوطِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د حکمت نه مراد قرآن دے. (2) يعني [خلقو ته] د قرآنِ کريم آيات واوروه، د قرآنِ کريم تعليمات ورته اوښايه، په قرآنِ کريم کښې ورکړې شوي دلائل ورته واوروه، په قرآنِ کريم کښې بيان شوې د حکمت خبرې ورته اوښايه، خلقو ته د نيکۍ دعوت ورکړه او هغوئي د الله پاك دِين طرف ته را اوبله! ❀ علامه بيضاوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د حکمت نه مراد مضبوط دلائل دي. (3) يعني چې کله د نيکۍ دعوت ورکوئ نو کمزورې خبره مه کوئ، بلکه

---

1 …اَسْنَى المطالب، صفحه:123۔

2 …تفسير جلالين، پاره:14، سورهٔ نحل، زيرِ آيت:125۔

3 …تفسير بيضاوى، پاره:14، سورهٔ نحل، زيرِ آيت:125۔

پوخ دليل سره د نيکۍ دعوت ورکوئ. ❁ علامه نَسَفِـي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه فرمائي: د حکمت نه مراد د افعالو مرتبے پيژندل دي.[1] مطلب ئې دا دے چې کومې نيکۍ طرف ته مونږه خلق رابلو او د کومې ګناه نه خلق منع کوو، د هغې دوارو درجے دي، بعضې نيکۍ د فرضو د درجے دي، بعضې واجب دي، بعضې سُنَّتِ مُؤَ کَّده دي، بعضې سُنَّتِ غير مُؤَکَّده دي او بعضې مُستَحب دي، دغسې د شريعت د منع کړو خبرو هم درجے دي، بعضې منع کړے شوي خبرې حرامې دي، بعضې مکروهِ تحريمي او بعضې مکروهِ تنزيهي دي، دغه شان د باطني ګناهونو او باطني نيکو هم درجے دي، دا ټول د شريعت اُصُول دي څوک چې د نيکۍ دعوت ورکوونکےوي، هغه [مُبَلِّغ] له پکار دي چې دا ټولې خبرې زده کړي او د دې لحاظ اوساتي او په حکمتِ عملۍ سره د نيکۍ دعوت عام کړي.

## مَوعِظَۀ حَسَنَه څه ته وائي؟

دا خو د **حکمت** وضاحت وو. اوس راځئ! دا اورو چې **مَوۡعِظَـۀ حَسَنَه** څه ته وائي؟ ❁ اِمام سُيُوطِـي شافعي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه فرمائي: د **مَوۡعِظَـۀ حَسَنَه** مطلب نرمه خبره کول دي.[2] يعني د نيکۍ دعوت ورکوونکے دِ په نرمۍ سره د نيکۍ دعوت ورکړي.

که په حقيقت کښې اوګورۍ نو د نيکۍ دعوت په نرمۍ سره کيږي ځکه چې د نيکۍ د دعوت ورکوونکي مقصد خلق په خپله خبره پوهه کول وي او سختي د پوهه کولو نه بلکه د جګړے انداز دے. ښکاره پوهيدل او بل پوهه کول، دا په نرمۍ سره کيږي او جګړه په سختۍ سره. يو مُبَلِّغ کوم چې د نيکۍ دعوت ورکوي، د هغه منصب

---

1 …تفسير مدارک، پاره:14، سورۂ نحل، زيرِ آيت:125۔
2 …تفسير جلالين، پاره:14، سورۂ نحل، زيرِ آيت:125۔

جګړه ختمول دي، جګړه کول، جګړه اوګږدول د مُبَلِّغ منصب نه دے، که يو مُبَلِّغ د سختئ انداز اختياروي، نو دا کس مُبَلِّغ پاتې نه شو بلکه دے پخپله د دې خبرې حاجت مند دے چې څوك ده ته د نيکئ دعوت ورکړي، ځکه چې څوك د نيکئ دعوت ورکوي هغه له پکار دي چې خپل منصب اوپيژني او **مَوۡعِظَـۃٔ حَسَنَه** يعنې په نرمئ سره دِ د نيکئ دعوت عام کړي. ❁ علامه اِمام نَسَفِـي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د **مَوۡعِظَـۃٔ حَسَنَه** مطلب دے: اِنذار او بِشارت يو ځائے کول. د اِنذار معنٰی ده: ويرول او د بِشارت معنٰی ده: زيرے ورکول. مطلب دا دے چې مُبَلِّغ دِ د خوفِ خُدا خبرې کوي، د ګناهونو عذابونه دِ بيانوي، د الله پاك د غضب نه، د هغه د نيولو نه، د عذابِ قبر نه، د دوزخ د عذاب نه دِ خلق ويروي او د دې سره سره د الله پاك د رحمت ذِکر دِ هم کوي، د نيکو فضائل دِ هم بيانوي. که مُبَلِّغ صرف عذابونه بيانوي نو خلق به د رحمتِ اِلٰهي نه مايوسه شي او که صرف د رحمت خبرې کوي نو خلق به په ګناهونو کولو ډاډه شي. [يعنې ګناهونه به کوي او وائي به چې الله رحم کوونکے دے مُعاف به مو کړي]

بعضې مُفَسِّرينِ کِرام فرمائي چې د **مَوۡعِظَـۃٔ حَسَنَه** مطلب دے: ساده ساده خبرې کول، د آسانو آسانو مِثالونو په ذريعه او د واقعاتو په ذريعه پوهه کول.

دا پورهپوره د نيکئ د دعوت انداز دے او د دې کار خپلې تقاضے دي، مُبَلِّغ له پکار دي چې دا تقاضے پوره کړي او د دې مطابق د نيکئ دعوت ورکوي.

دا د نيکئ د دعوت د انداز مختصر بيان دے، که د دې تفصيل معلومول غواړئ نو د دې د پاره د شيخِ طريقَت، اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِري رَضَوِي، ضيائي دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَهۡ کتاب ”**د نيکئ دعوت**“ اولولئ. [نوټ: کتاب ”د نيکئ دعوت“ په پښتو کښې چاپ شوے دے]

## د اَمِیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَهْ د تبلیغ انداز

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د نیکۍ د دعوت فضائل واوریدل، چې د نیکۍ دعوت څنګه ورکول پکار دي؟ د دې مختصر بیان مو واوریدلو، اوس، راځئ! چې د دې دور عظِیمُ الشَّان مُبَلِّغ چا چې د حکمتِ عملۍ او د خپل ښائسته اندازِ تبلیغ په ذریعه په ټوله دُنیا کښې د نیکۍ دعوت عام کړے دے یعني د شیخِ طریقَت، اَمِیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَهْ اندازِ تبلیغ باندې لږ غور اوکړو.

❁ شیخِ طریقَت، اَمِیرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الیاس عطّار قادِری دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَهْ قدرتي طور حُسَّاس طبیعت لرونکے دے. د شروع نه د هغوئي دا انداز دے چې ګناه اووینې نو خاموشه نه شي پاتې کیدے، چرته چې څوك په ګناه کولو اووینې نو فوراً ورته د موقعے په مُناسَبَت په حکمتِ عملۍ سره د نیکۍ دعوت ورکوي او د ګناه نه ئې د منع کولو کوشش کوي. ❁ په ستمبر 1981ء کښې اَمِیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَهْ د **دعوتِ اسلامي** شروع اوکړه، اګرچې هغوئي به مخکښې هم د نیکۍ دعوت ورکولو خو چې کله **دعوتِ اسلامي** شروع شو، د هغه وخت نه اَمِیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَهْ د نیکۍ د دعوت باقاعده سلسله شروع کړه. ❁ اَمِیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَهْ دا مدني مقصد اختیار کړو چې **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي."** بیا د دې مدني مقصد مطابق هغوئي شپه ورځ مسلسل کوششونه اوکړل، خپل کوششونه ئې جاري اوساتل، تر دې پورې چې د الله پاك په کرم او د هغه د خوږ حبیب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مهربانۍ سره او د اولیائے کرامو په فیضان سره د دعوتِ اسلامي دِیني پیغام په ټوله دُنیا کښې عام شو. ❁ په شروع کښې اَمِیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَهْ ډیر تکلیفونه او مشقتونه برداشت کړي دي، د هغوئي په لاره کښې رکاوټونه هم راغلل، بعضې ناپوهه خلقو د نیکۍ د دعوت د دې

ديني كار مَعَاذَ الله! بندولو هم كوششونه اوكړل خو هغوئي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه منع نه شولو، د الله پاك په رحمت ئې نظر وو او مخ په ترقئ روان وو. ❀ هغوئي به ډير لرې لرې سفر كولو،❀ په يوه ورځ كښې به ئې څو څو بيانونه كول. ❀ جمات، جمات، كلي، كلي، ښار، ښار ته به تللو❀ خلقو ته به ئې د نيكئ دعوت وركولو❀ كه چرته مړے به اوشو نو د مسلمانانو د غمخوارئ، او خيرخواهئ د جذبے لاندې به ئې په خپلو لاسو مړی ته غُسل هُم وركولو، او كفن به ئې ورته هُم وراغوستلو او د جنازے د لمُونځ امامتي به ئې هم كوله❀ د غم او خوشحالئ په موقعو باندې به ئې د هغوئي زړونو ته داسې تَسَلِّـي وركوله چې هغوئي به ورسره هم د نيكئ دعوت عام كولو د پاره په سفر كښې شريك شو.

دغه شان هغوئي په ثابت قدمئ سره د نيكئ دعوت وركولو، د هغوئي د مسلسل كوششونو په نتيجه كښې ❀ څوك چې بيلمانځه وو، لمُونځ ګزاره جوړ شو بلكه د جماتونو امامان جوړ شو❀ بد نګاهي كوونكي حيادار جوړ شو❀ مور وپلار ته تكليف وركوونكي با اَدبه جوړ شو❀ غله او ډاكوان راغلل، توبه ګار شو او د مُعاشرے شريف انسانان جوړ شو ❀ د حسد په اور كښې سوزيدونكي شكرګزار او [د مسلمانانو] خيرخواهان جوړ شو ❀ د فلمونو او سندرو شوقين نعت شريف لوستونكي او اوريدونكي جوړ شو❀ د دُنيا په غټو ګناهونو كښې اخته خلق چې دعوتِ اسلامي سره وابسته شو نو د خپلو ګناهونو نه توبه ګار شو او د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقان جوړ شو❀ د مال و دولت حرص لرونكي د رضائے اِلٰهي طلب ګار جوړ شو❀ شرابيان راغلل، توبه ګار شو او پاك انسانان جوړ شو❀ غافله راغلل، عبادت ګزار جوړ شو ❀ بے لارو ته نيغه لاره نصيب شوه ❀ په زرګاؤ كافرو ته د اسلام نِعمَت نصيب شو، دغه شان يو يو دوه دوه راتلل،او د نيكئ د دعوت په دې سفر كښې د هغوئي سره شامليدل او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د نيكئ د دعوت دا ديني پيغام ټولې دُنيا ته

اورسيدلو.

| | |
|---|---|
| اے امیرِ اہلسنت تیری شوکت زندہ باد | تجھ سے دُنیا بھر میں ہے دِیں کی اشاعت زندہ باد |
| تیرے دم سے آئی وہ دین و شریعت کی بہار | اعلیٰ حضرت زندہ اور صدرِ شریعت زندہ باد |
| تیری مجلس میں گئے جو بن گئے صالح سعید | نوجواں پر ہو ترا فیضانِ صُحبت زندہ باد |
| گوشہ گوشہ دنیا کا ہونے لگا ہے فیض یاب | عام ہر سُو ہو گیا فیضانِ سُنَّت زندہ باد [1] |

## د شرابي اصلاح اوشوه

د کراچۍ د يو اسلامي ورور بيان دے: زما يو خوږ ملګرے وو هغه ډير ماډرن، جوارګر او شرابي وو، مَعَاذَ الله د ګناهونو نه به ئې هيڅ ډډه نه کوله، يو ځل ما هغه ته د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ آډيو بيان وركړو.

هغه چې کله هغه بيان اولګولو نو د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ الفاظو د هغه په زړه ډير اثر اوکړو، د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د بيان په برکت د هغه په زړه کښې مدني انقلاب راغلو او هغه د ګناهونو نه توبه اوکړه، ګيره ئې پريښوده او عِمامه شريف ئې په سر کړه. [2]

## قاديانے مسلمان شو

يو ځل شيخِ طريقت، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د نيکۍ د دعوت په سلسله کښې فيصل آباد ته تشريف يوړلو، هلته هغوئي په اجتماع کښې بيان اوفرمائيلو، په هغه اجتماع کښې يو قاديانے هم شريک وو، اګرچې هغه دې اجتماع ته تنقيدي ذِهن سره

---

1 ...مناقب عطار، صفحه:1615۔

2 ...تعارُفِ امیر اہلسنت، صفحه:26۔

راغلے وو خو د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د اَثر نه ډك بيان په هغه داسې اثر اوکړو چې کور ته لاړو نو ټوله شپه ئې ژړل، بيا هغوئي د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ په خدمت کښې خط اوليکلو چې زه پخپله قاديانے يم، او تر اوسه پورې ما 70 مسلمانان ګمراه کړي او قاديانان کړي مې دي، اوس زه توبه کووم او مسلمانيدل غواړم، ما له څه کول پکار دي؟ شيخِ طريقت، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ هغه ته فوراً خط اوليکلو او تلقين ئې ورته اوکړو! چې پخپله هم فوراً اسلام قبول کړه او کوم مسلمانان چې دِ ګمراه کړي دي، د هغوئي هم بيرته د مسلمانولو څه صورت جوړ کړه. د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ جوابي خط ميلاويدو سره هغه [قادياني] پخپله هم کَلِمَه اووئيله،او مسلمان شو، بيا هغوئي خپل کور والؤ او د کور خلقو ته هم د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ بيانات واورول، د دې په برکت د هغوئي پوره خاندان کَلِمه اولوستله اومسلمانان شول. (1)

## کانړو چاړاګانو اسلامي ورونړو ته د نيکئ دعوت

د دعوتِ اسلامي د شروع شروع خبره ده، شيخِ طريقت، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د يو څو اسلامي ورونړو سره د نيکئ دعوت ورکولو د پاره د (کراچي) علاقے کهارادَر ته تشريف يوړلو، هلته ئې په هوټل کښې ناست يو څو کانړه اوچاړاګان اسلامي ورونړه اوليدل، هغوئي هوټل ته داخل شو او هغوئي ته ئې د اشارو په ذريعه د لَمانځه دعوت ورکړو. د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د دې نيکئ د دعوت په جواب کښې هغه کانړو چاړاګانو اسلامي ورونړو د اشارو په ذريعه د ځان خلاصولو کوشش کولو خو اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ کوشش جاري اوساتلو او هغوئي ته ئې د اشارو په

---

1 ...تذکرہ امیر اہلسنت، قسط:1، صفحه:10۔

ذريعه د لمُونځونو د قضا کولو عذابونه بيان کړل. تر دې چې د هغوئي د اِخلاص نه ډك دعوت په برکت هغه کانړه اوچاړاکان اسلامي ورونړه هغوئي سره جمات ته تللو ته تيار شو، هلته د لمَانځه نه پس اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ بيان اوکړو، د بيان نه پس د ملاقات په دوران کښې ئې بيا په هغه کانړو چاړاکانو اسلامي ورونړو باندې شفقت اوفرمائيلو. د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د دې کوشش او شفقت په برکت **مَاشَآءَ الله**! هغه کانړه چاړاکان اسلامي ورونړه د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره وابسته شو او عطاري هم جوړ شو. د دې نه پس په کانړو چاړاکانو اسلامي ورونړو کښې باقاعده د نيکئ د دعوت کار شروع شو، بيا په لږه موده کښې نه صرف په پاکستان بلکه بهر ملکونو ***(Overseas)*** کښې هم کانړو چاړاکانو اسلامي ورونړو ته د دعوتِ اسلامي پيغام اورسيدلو. اوس د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې کانړو چاړاکانو اسلامي ورونړو ته اسپيشل پرسنز ***(Special Persons)***[يعنې خصوصي افراد] وائي.

| | |
|---|---|
| جس نے ہر سُو ہے سُنَّت کا چرچا کیا | ایسے حامیٔ سُنَّت کی کیا بات ہے |
| جس نے روشن کیا سنتوں کا دِیا | اس امیر اہلسنت کی کیا بات ہے |
| جس نے بدلے ہیں لاکھوں کروڑوں کے دِل | ان کی نظرِ ولایت کی کیا بات ہے |
| دیکھ کر اُن کو سب ہیں یہی بولتے | اس ولی کی زیارت کی کیا بات ہے[1] |

## د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ يو څو اعلیٰ صِفات

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ ته الله پاك ډير صفتونه ورعطا کړي دي، هغوئي په تقوٰی، خوفِ خدا او عشقِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

1 ...مناقب عطار، صفحه:139۔

کښې بےمثاله دي، په استِقامت، عبادت و رياضت او علم و عمل کښې بےمثاله دي، غرض دا چې ډېر زيات صفتونه الله پاك اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ ته ورعطا کړي دي خو د نيکۍ د دعوت ديني کار په ټوله دُنيا کښې د عام کولو په اعتبار سره د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ **درې صِفات** ډېر اَهَم دي:

1: **اِخلاص**: اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ **اَلْحَمْدُ لِلّٰه**! هميشه د رضائے اِلٰهي طلب ګار اوسي، هغوئي د نيکۍ د دعوت ديني کار څه د دُنياوي لالچ د پاره نه دے کړے بلکه د دعوتِ اسلامي په شروع کښې به چې کله اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ لرې لرې علاقو ته د نيکۍ دعوت د پاره تللو، نو ځان سره به ئې د خوراك ټفن ورلو، تر دې پورې چې د مالکې ډبے او اوبه به هُم ورسره خپلې وې چې د خلقو نه د سُوال ضرورت پيښ نه شي.

2: **استقامت**: اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ چې کله د دعوتِ اسلامي شروع اوکړه نو د نيکۍ د دعوت په سفر کښې ډېر زيات رُکاوټونه هم راغلل، خلقو ورته ډېر تکليفونه هُم ورکړل ، مالي پريشانئ هم پرې راغلې، قاتلانه حمله هُم پرې اوشوه، خو د دې باوُجود اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د نيکۍ د دعوت ديني کار نه شا ته نشو، په استقامت سره په خپل مدني مقصد پوره کولو کښې مصروف اوسيدلو، تر دې پورې چې الله پاك دعوتِ اسلامي ته ترقي عطا کړه.

3: **حکمتِ عملي**: د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ يو غټ صفت دا دے چې الله پاك هغوئي ته د حِکمَتِ عملئ نِعمَت ورعطا کړے دے.

## حکمتِ عملي څه ته وائي....؟

**حکمتِ عملي** يو وسيع لفظ دے، د دې باقاعده تعريف کول ګران دي، **مختصر** پرې

داسې ځان پوهه کړئ چې د "**موقعې په مُناسَبَت په وخت صحيح فيصله کولو ته حکمتِ عملي وائي**".

**ياد لرئ!** په يو کار کښې د کاميابيدو د پاره بنيادي طور دوه څيزونه ضروري دي: **(1)** د هغه کار کولو صلاحيت. **(2)** حکمَتِ عمَلي. د نوي تحقيق مطابق په څه کار کښې د کاميابيدو د پاره يوه فارمولا جوړه ده:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ***Skills: 20%*** | + | ***Strategy: 80%*** | = | ***Success*** |

يعنې چې د يو کار کولو صلاحيت: 20 فيصده او حکمَتِ عمَلي: 80 فيصد وي نو نتيجه به کاميابي را اوځي. مقصد دا چې په يو کار کښې د کاميابيدو د پاره صِرف ماهر کيدل کافي نه دي بلکه حِکمتِ عَمَلي هم سخته ضروري ده ځکه چې د دې نه بغير کاميابي حاصليدل ډير مشکل دي.

د دعوتِ اسلامي په کاميابئ کښې هم **اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** غټ کردار د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د حکمَتِ عملئ دے. اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ چې د کله نه دعوتِ اسلامي شروع کړے دے ، د هغه وخت نه تر اوسه پورې هغوئي په سوچ و فِکر سره، د مشورو په ذريعه د موقعے مطابق په وخت صحيح فيصلے کړي دي، بيا به د ټولو په مشوره چې کومه فيصله اوشوه، په هغې به ئې عمل شروع کړو، د هغې په نتيجه کښې د هغوئي لګولے شوے بوټے **(يعنې دعوتِ اسلامي)** د وخت سره سره غټيدو او اوس د يوے غټې اوچتې وَنې په صورت کښې د دُنيا په وړاندې دے.

## دعوتِ اسلامي او د خدمتِ دِين شعبے

تاسو لږ غور اوکړئ! ۞ په 1981ء کښې د دعوتِ اسلامي شروع اوشوه، د دعوتِ

اسلامي په ديني کارونو کښې وړومبے ديني کار: **هفته وار اِجتماع** ده. شيخ طريقَت، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ په کراچۍ کښې هفته واره اجتماع شروع کړه، د دې ځائے نه د نيکۍ دعوت عام کيدل شروع شو، ۞ په جماتونو کښې درس شروع شو، ۞ بيا ضرورت محسوس شو چې جمات ته راتلونکو ته د نيکۍ دعوت رسيږي خو کوم مسلمانان چې د جماتونو نه لرې دي، يعني لمَانځه له نه راځي، هغوئي به جماتونو ته څنګه راولو، د دې د پاره چوك درس شروع شو، ۞ بيا دعوتِ اسلامي د يوے علاقے تحريك نه وو، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د دې مقصد مطابق د نيکۍ دعوت شروع کړے وو چې "**ما له د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي.**" د دې مقصد پوره کولو د پاره په ټوله دُنيا کښې د دِين پيغام رَسَوَل وو، لِهٰذا د مدني قافلو سلسله شروع شوه ۞ په لرې لرې علاقو کښې د نيکۍ دعوت عام شو ۞ د ټولې دُنيا په خلقو کښې خو اسلامي خويندې هم شاملې دي، هغوئي ته هم د نيکۍ دعوت رَسَوَل وو، لِهٰذا شرعي احتياطونو سره په هغوئي [يعني اسلامي خويندو] کښې هم ديني کار شروع کړے شو ۞ دغه شان د وخت سره سره شُعبے هم قائم کړے شوې ماشومانو هلکانو او جينکو ته د دُرُست تجويد و قراءت سره د قرآنِ کريم د حفظ او ناظِره د تعليم ورکولو د پاره مدرسةُ المَدينه قائم کړے شوے، **اَلْحَمْدُ لِلّٰه**! تر اوسه پورې په پاکستان او بهر ملکونو کښې ټولې 4 هزار 6 سو 50 مدارسُ المَدينه قائمې دي او په دې کښې د لوستونکو ماشومانو هلکانو او جينکو شمير 2 لاکه، 16 زره او 841 دے.

۞ د لوئے عمر اسلامي ورونړه او اسلامي خويندې کوم چې دُرُست تجويد و قراءت سره قرآنِ کريم نه شي لوستلے، هغوئي ته د قرآنِ کريم تعليم ورکولو د پاره د اسلامي ورونړو مدرسة المَدينه [بالغان] جُدا او د اسلامي خويندو د پاره جدا مدرسةُ المَدينه

شروع شوي دي، د دې شمير تر دى وخته پورې په پاکستان او بهرملکونو کښې 39 زره 2 سوه او 51 ته رسيدلے دے. په دې کښې د لوستونکو شمير 2 لاکه 27 زره 4 سوه او 65 دے.

۞ دې سره سره د جهالت تيارې ختمولو او د علم رنړا خورولو د پاره د اسلامي ورونړو او اسلامي خويندو د پاره جدا جدا جامعاتُ المَدينه قائمې شوي دي. چې په هغې کښې درسِ نظامي يعنې عالِم کورس کيږی. تر اوسه پورې په پاکستان او بهرملکونو کښې 1127 جامعاتُ المَدينه قائمې دي، په دې کښې د طالبِ علمانو هلکانو او جينکو شمير 88 زره او 835 دے.

۞ بيا د مصروفيت دور دے، لِهٰذا د خلقو د سهولت د پاره **فيضان آن لائن اکيڈمی (بوائز اينڈ گرلز)** شروع کړے شو، په دی کښی آن لائن حِفظ و ناظِره، درسِ نِظامي يعنې عالِم کورس او د دې نه علاوه د 55 نه زيات کورسونه د اسلامي ورونړو او اسلامي خويندو د شرعي احتياطونو لحاظ ساتلو سره کيږي. تر اوسه پورې د **فيضان آن لائن اکيڈمی** ټول 43 شاخونه قائم شوي دي، په دې کښې د لوستونکو شمير د 20 زره نه زيات دے.

۞ بيا د علم رنړا په خوريدو شوه، حافظان، قاريان، عالِمان جوړيدل شروع شو، بيا په ژوند کښې د راپيښيدونکي مختلفو مسائلو شرعي حل د پاره دارُ الاِفتاء اَهلِسُنَّت قائمې کړے شوې، چې هلته مُفتيانِ کرام ناست وي، فتوے ليکي، په دی کښی د تحريري فتاوٰی په ذريعه، د فون په ذريعه، د وټس ايپ او اي ميل وغيره په ذريعه خلقو ته د پيښيدونکو مسائلو حل ورکولے کيږي. يعنې د هغوئي د سوالونو جوابونه ورکولے کيږي.

۞ اوس عُلمائے کرام خو تياريدل، خو د علم فيضان عام کولو د پاره دومره کافي نه

وه ، چنانچه اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَّه (اسلامِک ریسرچ سنٹر) قائم کړے شو. په دی کښی، د تفسیر، حدیث، فقه، سیرت او نورو مختلفو موضوعاتو باندې کتابونه لیکلے کیږي، د عاشقانِ رسول عُلماؤ لیکلي شوي کتابونو په آسانه اُردو ژبه کښې ترجمه کیږی، زاړه دیني کتابونه د دورِ حاضر د تقاضو مطابق تیاریږي، خاص طور د اعلی حضرت اِمامِ اهلِسُنَّت شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او د اَمِیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په کتابونو کار کیږی . ۞ کتابونه لیکل خو شروع شو خو هغه چاپ کول هم وو، چنانچه یوه شعبه مَکتبةُ المَدِینه قائم کړے شوه، د دې نه کتابونه چاپ کیږي او هدیه کیږي .

۞ دا ټولې خو دیني تعلیمي ادارے وی ، د ماشومانو جینکو او هلکانو صحیح اسلامي طریقه باندې تعلیم و تربیت او دُنیاوي تعلیم د پاره دَارُ المَدِینه اسلامك سکول سستم قائم شو، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! نِزدې ده چې دارُ المَدِینه کالج او یونیورسټي به هُم شروع شي.

۞ دعوتِ اسلامي چې څنګه څنګه مخکښې روان وو مخ په ترقئ وو، خلق ورسره یو ځائے کیدل او قافله جوړیدله، کوم اسلامي ورونړه او اسلامي خویندې چې دعوتِ اسلامي سره وابسته کیږي، د هغوئي دِیني، اخلاقي او تنظیمي تربیت د پاره شعبه دارُ السُّنَّه قائم کړے شوه، څوك چې څومره وخت ورکولے شي، د خپل سهولت مطابق دارُ السُّنَّه ته راتلے شي او علمِ دین زده کولے شي.

۞ د دعوتِ اسلامي دیني کار نور هم زیات شو د ژوند مختلفو شعبو سره تعلق لرونکو خلقو ته د نیکئ دعوت ورکول شروع شو نو د مختلفو شعبو د خلقو د پاره جدا جدا شعبے جوړې شوې. مثلاً ۞ سکول، کالج، یونیورسټي، اکیډمو وغیره تعلیمي ادارو کښې د نیکئ دعوت عام کولو، د طالب علمانو، اُستاذانو او نور سټاف دیني تربیت د پاره شُعبۂ تعلیم ۞ هومیو پیتهك سره تعلق ساتونکو خلقو کښې د نیکئ دعوت عام

کولو د پاره رابطه برائے **هومیوپیتهك ډیپارټمنټ** ۞ د زراعت او لائیو سټاك شعبے په خلقو کښې د نیکۍ دعوت عام کولو د پاره **رابطه برائے ایګریکلچر اینډ لائیو سټاك** ۞ د حکمت یعنې [طبیبانو] په شعبه کښې د نیکۍ دعوت عام کولو د پاره **شعبه رابطه برائے حکیم** ۞ د اولیائے کرامو زیارتونو باندې حاضرې کوونکو ته د زیارتونو آداب زده کولو او د نیکۍ دعوت عام کولو د پاره **شعبه مزارات اولیاء** ۞ پولیس، سیاست، سرکارې ادارو سره تعلق لرونکو خلقو کښې د نیکۍ دعوت عام کولو د پاره **شعبه رابطه برائے شخصیات** ۞ د کاروبارې طبقے په خلقو کښې د نیکۍ دعوت عام کولو د پاره **شعبه رابطه برائے تاجران** ۞ عدالت، کچهرۍ سره تعلق لرونکو خلقو مَثَلاً وکیلانو،ججانو کښې د نیکۍ دعوت عام کولو د پاره **شعبۀ رابطه برائے وُکلاء** ۞ ریلوے، ائیرپورټ، ګډز ټرانسپورټ، بس او ټیکسې اسټینډ وغیره سره تعلق لرونکو خلقو کښې د نیکۍ دعوت عام کولو د پاره **رابطه برائے ټرانسپورټ ډیپارټمنټ** ۞ د شوبِز [یعنې د فنکار] شعبې په خلقو کښې د نیکۍ دعوت عام کولو د پاره **شعبه رابطه برائے شو بِز** ۞ د لوبو سره وابسته خلقو مثلاً لوبغاړو وغیره کښې د نیکۍ دعوت عام کولو د پاره **رابطه برائے اسپورټس ډیپارټمنټ** ۞ د صحافت سره تعلق لرونکو خلقو کښې د نیکۍ دعوت عام کولو د پاره **میډیا ډیپارټمنټ** ۞ د قیدیانو د اصلاح او دینې تعلیم او اخلاقې تربیت د پاره **شعبه اصلاح برائے قیدیان** ۞ ګونګیانو، چاړا ګانو، معذورو او نابینا خلقو کښې د نیکۍ دعوت عام کولو د پاره **اسپیشل پرسنز ډیپارټمنټ** ۞ حج او عمرے له تلونکو ته د حج او عمرے شرعې مسائل زده کولو، د هغوئ اخلاقې تربیت او د نیکۍ دعوت عام کولو د پاره **شعبه حج و عمره** ۞ نوې آبادیدونکې کالونو وغیره کښې د نیکۍ دعوت عام کولو د پاره **نیو سوسائټیز ډیپارټمنټ** ۞ د نوې مسلمانیدلو اسلامې ورونړو د دینې، اخلاقې او شرعې تربیت د

پاره **شعبه فیضانِ اسلام** ۞ انجینئرانو، اکاؤنټ آفیسرانو وغیره کښې د نیکۍ دعوت عام کولو د پاره **پروفیشنلز ډیپارټمنټ** ۞ د اَمِیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ له طرفه د عطا کړے شوو نیکو اعمالو اشاعت، تربیت او کارکردګۍ وغیره د پاره **شعبه اصلاحِ اعمال** ۞ د بیمارانو، قرضدارانو، پریشان حالو د خیرخواهۍ، داستخارے، اواوراد وظائف په ذریعه دعلاج د پاره **شعبه روحاني علاج** ۞ د شرعي، اخلاقي او تنظیمي تربیت د مختلفو کورسونو د پاره **شعبه مدني کورسز**۞ جماتونه کوم چې د اسلام اَهَم مرکزونه دي، د دې د تعمیر او آبادۍ د پاره **شعبه خُدَّامُ الْمَسَاجِدِ وَ الْمَدارِس** ۞ د دعوتِ اسلامي زیرِ انتظام په جماتونو کښې اِمامان ورکولو، د هغوئي د اجارے او د کارکردګۍ وغیره د پاره **شعبه اَئِـمَّـه مَسَاجِد** ۞ دنارینه او زنانه مسلمانانو د وفات کیدو په موقع باندې د مسلمانانو خیرخواهۍ او غمخوارۍ کولو سره مړي ته غُسل، کفن دفن وغیره د پاره **شعبه کفن دفن**۞ دیني او مُقَدَّس اوراق یعني پاڼرې او اخبارونه د بے ادبۍ نه ساتلو او هغه محفوظ کولو د پاره **شعبه تَحَفُّظِ اَورَاقِ مُقَدَّسه** ۞ په موجوده دَور کښې تـې. وي، انټرنیټ او سوشل میډیا، دا د ګناهونو ډیرې غټې ذریعے جوړې شوي دي او د دې په وجه په ډیره لګه موده کښې د بے حیائي او فحاشۍ د ګناهونو سیلاب راغے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شیخ طریقت، اَمِیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ دې طرف ته هم توجه اوفرمائیله او **مدني چینل** ئې جاري کړو، مدني چینل تر اوسه پورې په دریو ژبو (انګلش، اردو او بنګله) کښې د دُنیا په اکثرو ملکونو کښې اسلامي نشریات خوروی، دغه شان په یوټیوب باندې دعوتِ اسلامي خپلې چینلې جوړې کړې دي، د فیس بُك اکاؤنټونه ئې جوړ کړي دي، د دُنیا لکونه خلق کوم چې اسمارټ موبائل استعمالوي، هغوئي ته د اسمارټ فون په ذریعه د نیکۍ دعوت ورکولو د پاره د دعوتِ اسلامي **آئـی. ټـی ډیپارټمنټ** مختلفې موبائل ایپلي کیشنز جوړ کړي دي او دا سلسله

مخکښې روانه ده. دې **آئـی. ټـی ډيپارټمنټ** يو موبائل ايپلي کيشن ***Dawateislami & Digital Services*** (دعوتِ اسلامی اور ڈیجیٹل سروسز) جاري کړے دے. په دې موبائل ايپلي کيشن کښې د دعوتِ اسلامي ټول ډيجيټل سروسز معلومات ورکړے شوي دي.

۞ **اَلْحَمْدُ لِلّٰه**!د دعوتِ اسلامي په ويلفيئر (يعني فلاحي کارونو) کښې هُم ډير خدمت کوي، د دې د پاره شعبه ***FGRF*** قائمه کړے شوي ده، د دې شعبے لاندې د آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د درد مند اُمَّت د خيرخواهئ د پاره، د هغوئي درد تکليف لرې کولو د پاره، د سيلاب، زلزلے وغيره د مختلفو مصيبتونو په موقع باندې رقم، جامے، خوراك وغيره پيش کوي او د هغوئي مدد کوي . د لاك ډاؤن په موقع **اَلْحَمْدُ لِلّٰه**! په لکونو عاشقانِ رسول کښې نقد رقم او د خوراك ښباك ځيزونه تقسيم کړے شو، **تهيليسيميا** فري پاکستان باندې هم **اَلْحَمْدُ لِلّٰه**! کار جاري دے.**اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم**! ۞ ډير زر به دعوتِ اسلامي "**مدني هوم**" هم جوړوي، چې په هغې کښې به د يتيمانو پرورش، او د هغوئي ديني دُنياوي تربيت کيږي او د مُعاشرے بهترين او په کار راتلونکي انسان جوړولو کښې به د هغوئي مدد کيږي.

دغسې د وخت تيريدو سره سره اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د ډيرې حکمتِ عملئ مظاهره اکړې ده، د موقعے په مناسبت سره ئې دُرُست او په وخت فيصلے اوکړې، شعبے جوړيدلې، دعوتِ اسلامي ترقي کوله او د اللّٰه پاك په فضل او د هغه د خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نظرِ کرم او د اوليائے کرامو په برکت سره د کراچئ د ښار د يوے علاقے نه اوچت شوے تحريك د خلقو د سترګو وړاندې ښار ښار، کلي کلي، ملك ملك ته رسيدلے دے، د سُنتو کار روان وو، د دِين تبليغ کيدلو کيدلو تر دې پ چې د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د دې کاملې حکمتِ عملئ سپرلي ئې چې اوليدل نو زمانے دا اووئيل:

| | |
|---|---|
| مسلک کا تو امام الیاس قادری | تدبیر تیری تام ہے، الیاس قادری |
| فکرِ رضا کو کر دیا عالم پہ آشکار | یہ تیرا اُونچا کام ہے الیاس قادری |
| ہے دعوتِ اسلامی کی دُنیا میں دُھوم دھام | مقبول تیرا کام ہے الیاس قادری |
| تنہا چلا تو ساتھ ترے ہو گیا جہاں | میٹھا ترا کلام ہے الیاس قادری |
| سَر پر عمامہ ماتھے پہ سجدوں کا نُور ہے | جو بھی ترا غُلام ہے الیاس قادری |

د شیخِ طریقت، اَمیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَهْ د کاملې حکمتِ عملۍ یو بل اړخ هم دے، هغه دا چې کار کول، کار کیدل، دا غټه لویه خبره ده خو د دې نه زیات اهم او ضروري کار ته همیشوالے ورکول، یعنې چې په کار کښې همیشګي راشي، او کار مسلسل روان وي. د دې د پاره شیخِ طریقت، اَمیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَهْ د مجلسونو نِظام جوړ کړو، بیا په ټولو مجالسو باندې ئې **مرکزي مجلس شورٰی** جوړه کړه او د دعوتِ اسلامي ټول نِظام ئې مرکزي مجلس شورٰی ته اوسپارلو، اوس د دعوتِ اسلامي ټول دیني کار د مجلس شورٰی دلاندې روان دے. د دې نظام یو حکمت دا هم دے چې که افراد که د دُنیا نه لاړ هم شي، بیا به هم د دعوتِ اسلامي دیني کار اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم!روان وي، د نیکۍ دعوت به عام کیږي او د دِین پیغام به ټولې دُنیا ته رسي.اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم!

اللّٰه پاك دِ مونږ ته د نیکۍ د دعوت عام کولو توفیق را عطا کړې، کاش! د شیخِ طریقت، اَمیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَهْ په برکت دِ مونږه د عاشقانِ رسول دیني تحریك دعوتِ اسلامي دیني کارونو کښې ښه زیاته برخه اخستونکي جوړ شو.

| | |
|---|---|
| دَعوتِ اسلامی کی قَیُّوم، | سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم |
| اس پہ فدا ہو بچہ بچہ، | یااللہ مری جھولی بھر دے |

# د غوثِ پاك مبارك فرمان

راځئ!چې د يولسمې دځوان، پيرانِ پير، روشن ضمير، شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه يو مبارك فرمان د مختصر وضاحت سره واورو. حُضُور غَوثِ پاك رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: د خلقو څلور قسمونه دي:

1: وړومبے هغه انسان چې لَا لِسَانَ لَهٗ وَلَا قَلْبَ د چا سره چې نه ژبه وي او نه زړه (يعني هغه انسان كوم چې نه خپله اصلاح كوي، نه د نورو اصلاح كوي، نه د هغه په زړه كښې د نيكئ خيال شته او نه ئې په ژبه د نيكئ دعوت شته. حُضُور غَوثِ پاك رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي:) د الله پاك په بارګاه كښې د ده هيڅ قدر نشته، لِهٰذا داسې هيڅ كله مه جوړيږئ څكه چې په ده باندې د الله پاك عذاب نازليږي، خو! كه الله پاك ده ته په خپل رحمت سره هدايت وركړي نو دا نيك جوړيدے شي.

2: دويم هغه انسان چې لَهٗ لِسَانٌ بِلَا قَلْبٍ يعني ژبه ورسره ده، خو زړه ورسره نشته، (يعني هغه نورو ته خو د نيكئ دعوت وركوي، خو پخپله پرې عمل نه كوي، حُضُور غَوثِ پاك رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي:) د داسې كس نه لرې اوسئ چرته د هغه د ګناهونو اور تاسو نه راچاپيره نه شي.

3: دريم هغه كس دے چې لَهٗ قَلْبٌ بِلَا لِسَانٍ د هغه سره زړه شته خو ژبه ورسره نشته. دا هُغه مُومِن دے په چا چې الله پاك د هغه عيبونه ظاهر كړي دي، دا بس په يواځې ځائے كښې په خپله اصلاح كښې مصروف اوسي، الله پاك د هغه زړه روښانه كړے وي او هغه د خلقو نه پټيږي، كه داسې خوك درته ميلاؤ شي نو د هغه صحبت اختيار كړئ، د هغه خدمت اوكړئ، د هغه په بركت به الله پاك تاسو هم په نيكو خلقو كښې شامل كړي.

4: حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: څلورم هغه کس دے چې فرښتے ئې هُم په عظمت سره يادوي، په حديثِ پاك کښې دي: چا چې علم زده کړو، په هغې ئې عمل اوکړو او نورو ته ئې ورزده کړو، د فرښتو په نِزد هغه ته عظيم انسان وئيلے کيږي. حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور فرمائي: دا د الله پاك معرفت لرونکے دے، دا هغه کس دے کوم چې الله پاك د خپلو آيتونو (يعني نښو) عالِم جوړ کړے دے، د هغه په زړه کښې د عِلم ډيرې قيمتي ملغلرې ايښودے شوي دي، دا خوښ شوے مقبول بنده دے، الله پاك ده ته خپل هدايت ورعطا کړے دے، الله پاك هغه ته په خپل قُرب کښې ترقي ورکړې ده، د علم د پاره ئې د هغه سينه فراخه کړې ده، هغه ئې د نيکئ د دعوت ورکولو والا، د عذابونو نه ويرولو والا جوړ کړے دے، دا پخپله هُم په هدايت دے او نورو ته هُم هدايت ورکوي، دا د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام رښتينے نائب دے.

حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپلو مريدانو، عقيدتمندو بلکه ټولو عاشقانِ رسول ته نصيحت کوي، فرمائي: تاسو ته که داسې کس ميلاؤ شي نو د هغه لمَن کلکه اونيسئ! د هغه مُخالَفَت مه کوئ! د هغه نه نفرت مه کوئ! د هغه نه مه جدا کيږئ! د هغه خبره د نه منلو او د هغه په نصيحت د عمل نه کولو نه ځان ساتئ! ځکه چې د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام داسې رښتينے نائب کوم چې په علم عمل کوي او د نيکئ دعوت عام کوي، د هغه په تابعدارئ کښې سلامتيا ده. (1)

| | |
|---|---|
| نام الياس عطارؔ ہے جس کا وہ | رہبرِ اہلسنت سلامت رہے |
| روشنی جس کی جگ میں ہے پھیلی ہوئی | ماہتابِ ولایت سلامت رہے |

1 ...شرح فُتُوح الغيب، صفحه:353۔

## دولسو ديني كارونو كښې يو ديني كار :"نيك اعمال"

**اے عاشقانِ رسول!** د نيك جوړيدلو او د نيكۍ دعوت عام كولو د پاره تاسو هم د عاشقانِ رَسُول ديني تحريك دعوتِ اسلامی ديني ماحول سره وابسته شئ، او د ذيلي حلقے دولسو ديني كارونو كښې د زړه په اخلاص سره حصه واخلئ. **اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم!** د دِين او دُنيا بيشميره نيكۍ به حاصل كړئ.

د دعوتِ اسلامی 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار: **72 نيك اعمال** دي. دا د شيخ طريقت، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ له طرفه عطا شوي مختصره رساله ده، په دې كښې په نيكو كارونو باندې مشتمل 72 سوالونه وركړے شوي دي، د هر سُوال لاندې خانے دي، د خپلې هرې ورځې اعمالو باندې د غور و فِكر كولو په ذريعه دغه خانے ډكول وي. 72 نيك اعمال د نيك جوړيدلو يوه قيمتي نُسخه ده

## زما وروړ پينځه وخته لمُونځ گزاره جوړ شو

د كراچۍ د يو اسلامي وروړ بيان دے:چې زمونږ د جمات امام صاحب كوم چې د دعوتِ اسلامي د ماحول سره تعلق لري، هغوئي يوه ورځ زما مشر وروړ ته د نيك اعمالو رساله په تحفه كښې وركړه، هغوئي [رساله] كور ته راوړوه، او چې اوئې لوستله نو حيران پاتې شو ځكه چې په دې مختصر رساله كښې يو مسلمان ته د اسلامي ژوند تيرولو ډيره زبردسته فارمولا وركړے شوي ده. د نيك اعمالو رساله ميلاويدلو په بركت هغوئي ته د لمُونځ جذبه نصيب شوه او د جَمعي لمُونځ ادا كولو د پاره جمات ته حاضر شو او اوس پينځه وخته لمُونځ گزاره جوړ شوے دے، مخ ئې هم په گيره مباركه ښائسته كړے دے او د نيك اعمالو رساله كښې خانے هم ډكوي.

مدنی اِنعامات کے عامل پہ ہر دم ہر گھڑی | یااِلٰہی! خوب برسا رحمتوں کی تُو جھڑی

**نوټ**: د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې اوس ”مدني انعاماتو“ ته”نيك اعمال“ وائي.

**خورو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. يوه ورځ تاجدارِ رِسالت، شَهَنشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: **مَنْ تَمَسَّكَ بِسُنَّتِيْ عِنْدَ فَسَادِ اُمَّتِيْ فَلَهٗ اَجْرُ مِائَةِ شَهِيْدٍ** يعني د اُمَّت د فساد په وخت کښې چې څوک زما په سُنَّتو مضبوطئ سره عمل کوي هغه ته به د سلو شهيدانو ثواب عطا کيږي. [1]

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا جنّت کښې مې خپل جوړ کړه گاونډي خوږه آقا

## په ”کور والؤ خرچ کول“ سُنَّتِ مصطفٰی دي

**دوه فرامينِ مصطفٰی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **(1)** په ورځ د قيامت به په تله د عمل کښې د ټولو نه اوَّل د بنده په خپل کور والؤ خرچ شوے مال کيښودے شي. [2] **(2)** څوك چې د ثواب په نيت په خپل اهل و عيال باندې خرچ اوکړي نو هغه د ده د پاره صدقه ده. [3]

**اے عاشقانِ رسول!** د کور په خلقو خرچ کول سُنَّتِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دي. ❀ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په خپل کور والؤ خرچ کولو ❀ د حديثِ پاك مطابق د هجرت نه پس يو وخت داسې هم راغلو چې رسولِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د خپل کور

---

1 ...زُہد کبیر، صفحہ:118، حدیث207۔
2 ...معجم الاوسط، جلد:4، صفحه: 329، حديث: 6135۔
3 ...مسلم، کتاب: الزكاة، صفحه: 502، حديث: 1002۔

والؤ د پاره د ټول کال غله جمع کړله.[1]

د دې حديثِ پاك دلاندې مُفسّرِ قرآن، حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه چې کومه شرح بيان کړې ده، د هغې خلاصه ده: يعنې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول کال غله جمع کول د بنو نُضير د قلعه فتح کولو نه وروسته خبره ده. دا هم خيال ساتئ چې حُضُور، جانِ کائنات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اګرچې ټول کال غله جمع کوله خو اُمَّهاتُ الْمُؤمِنِين به صدقه و خيرات کولو، د ټول کال غله به زر ختمه شوه او حالت به لوږې ته اورسيدلو.[2]

| | |
|---|---|
| بھوکے رہتے تھے خود اوروں کو کھلا دیتے تھے | کیسے صابِر تھے محمّد کے گھرانے والے |

په احياءُ العلوم کښې دي: د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول کال غله جمع کول د دې د پاره وو چې دا عمل د اُمَّت په حق کښې سُنَّت جوړ شي، ګنې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کور افراد کمزورې زړه والا نه وو (بلکه هغوئي ټولو په الله پاك باندې کامل يقين ساتونکي وو).

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

1 ... احياء العلوم، کتاب: توحيد، جلد: 4، صفحه: 343۔
2 ... مرآة المناجيح، جلد: 5، صفحه: 949۔

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَ عَلٰى اٰلِهٖ وَ صَحْبِهٖ وَ سَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندئ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صلَّى الله عليهِ واٰله وسلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صلَّى الله عليهِ واٰله وسلَّم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رضي الله عنه نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صلَّى الله عليهِ واٰله وسلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[2] راځئ چې

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا
2... القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صلی اللہ علیہ والہ وسلم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رضی اللہ عنہ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رضی اللہ عنہم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صلی اللہ علیہ والہ وسلم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لَوَلي نو داسے ئې لَوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صلی اللہ علیہ والہ وسلم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

2... القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث: ۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب في كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵